# د کورنتيانو په نوم د پولوس رسول دويم خط

## پېژندګلو

پولوس رسول په خپل دويم خط کښې د کورنتيانو جماعت ته منت کوى چې د زيرى په کار کښې هغۀ سره شريک شئ. د پولوس رسول مخالفينو د هغۀ د کارونو د پټولو کوشش کولو او داسې به يې وئيل چې د هغۀ د تکليفونو نه پته لګى چې رښتينے رسول نۀ دے. پولوس رسول به وئيل د هغۀ تکليفونه د هغۀ باور په حضرت عيسىٰ باندې لا زياتوى په کومو تکليفونو کښې چې هغۀ د حضرت عيسىٰ مسيح طاقت ته اِشاره کړې ده دا نۀ چې خپل طاقت ته. د کورنتيانو دويم خط د زيرى د خدمت، د پاک ژوند تېرولو، او په اخلاص سره د سخاوت کولو په حقله ښۀ تعليم او لاربښودنه کوى. پولوس رسول دا کِتاب په مِکدونيه کښې د اول کورنتيان د خط نه يو کال وروستو وليکلو. د حفظ کولو دپاره ۹:۱۲ آيت ”زما فضل ستا دپاره کافى دے ځکه چې زما طاقت په کمزورتياو کښې پوره کيږى.“

## سلام

١ ⑴ د پولوس د طرفه چې د خُدائ پاک په مرضىٰ د عيسىٰ مسيح رسول دے او
زمونږ ورور تيموتيوس د طرفه د خُدائ پاک هغه جماعت په نوم کوم چې په کورنتوس
کښې دے او ورسره د ټولو اخيه د مقدسينو په نوم، ⑵ زمونږ د خُدائ پلار او د مالِک
عيسىٰ مسيح د طرفه دې په تاسو فضل او سلامتى وى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پولوس د تکلیف نه وروستو د خُدائ پاک شُکر گزاری

۳ زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح د خُدائ پاک او پلار ثنا دې وی چې د رحم نه ډک پلار
او د هر قِسمه تسلۍ خُدائ پاک دے. ۴ هغه زمونږ په ټولو مصیبتونو کښې مونږ ته
تسلی راکوی د دې دپاره چې مونږ نورو ته هم تسلی ورکولے شُو کله چې هغوئ په
مصیبت کښې راګیر شوی وی نو مونږ هم هغه تسلی ورکولے شُو چې خُدائ پاک مونږ
ته راکړې ده. ۵ د مسیح په وجه چې د څومره ډېرو تکلیفونو سره مخامخ کیږُو نو
ورسره خُدائ پاک په مسیح کښې زمونږ تسلی هم زیاتوی. ۶ کهٔ مونږ د څهٔ قسم
مصیبتونو سره مخامخ کیږُو نو دا ستاسو د تسلۍ او خلاصون دپاره او کهٔ مونږ تسلی
مومو نو دا ستاسو د تسلۍ دپاره دی چې تاسو هم هغه تکلیفونه په صبر سره تېر کړئ
کوم تکلیفونه چې مونږه هم تېروو. ۷ او زمونږ اُمید ستاسو په حقله ډېر کلک دے
ځکه چې مونږ په دې پوهه یُو چې څنګه چې تاسو زمونږ په تکلیفونو کښې شریک یئ، نو
هم دغه شان تاسو زمونږ په تسلۍ کښې هم شریک یئ. ۸ اے ورونړو او خوېندو، مونږ
دا نهٔ غواړُو چې تاسو دې د هغه مصیبت نه ناخبره پاتې شئ کوم چې د آسیه په صوبه
کښې په مونږ راغلو، ځکه چې په مونږ دومره سخت دباؤ وو چې د برداشت نه بهر وو او
مونږ د ژوند نه نا اُمیده شوی وُو. ۹ نو په حقیقت کښې مونږ خپل مرګ په خپلو
سترګو ولیدلو. خو مونږ بیا د خپل ځان په ځائ په هغه خُدائ پاک بهروسه وکړه څوک
چې مړی راژوندی کوی. ۱۰ خُدائ پاک مونږ د داسې خطرناک مرګ نه بچ کړو، او بیا
به مو هم بچ کوی. زمونږ په هغهٔ ایمان دے چې بیا به مو هم بچ کوی. ۱۱ او تاسو د
خپلو دُعاګانو په وسیله زمونږ مدد کوئ. او ډېر خلق به د خُدائ پاک شُکر گزاری وکړی
ځکه چې خُدائ پاک په خپل فضل و کرم سره د ډېرو خلقو دُعاګانې زمونږ دپاره قبولې
کړې دی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پولوس د ملاقات اراده بدلول

١٢ دا خبره مونږ ته د فخر کولو ده چې زمونږ ضمير صفا دے. ځکه چې د خُدائ
پاک په وړاندې مونږ د خلوص نه ډک او د سادګۍ ژوند تير کړو. او مونږ په خپل انسانی
حکمت بهروسه نۀ ده کړې. بلکې د خُدائ پاک په فضل مو په دُنيا کښې او خاص تاسو
سره داسې رويه وکړه. ١٣ مونږ تاسو ته صفا خبره ليکُو په هغې کښې څۀ داسې ليکل
نشته چې تاسو يې لوستلے نۀ شئ او يا پرې نۀ پوهيږئ، او زما اُميد دے چې يوه ورځ به
تاسو پرې پوره پوهه شئ. ١٤ خو کۀ اوس تاسو زمونږ په خبرو نۀ پوهيږئ نو بيا کله
چې مالِک عيسىٰ راشی، نو تاسو به په مونږ فخر کوئ او هم دغه شان به مونږ په تاسو
فخر کوُو. ١٥ د کله نه چې زۀ ستاسو د پوهې او ايمان نه مطمئن وم نو ما غوښتل چې
اول تاسو سره ملاقات وکړم د دې دپاره چې زما په دوياره درتلو سره ستا يو په دوه
فائده وشی. ١٦ ما غوښتل چې د مِکدونيه په لار زۀ تاسو سره مِلاو شم او په واپسۍ
کښې تاسو له راشم او تاسو به مې يهوديه ته رُخصت کړئ. ١٧ تاسو ما ته دا ووايئ
چې ګڼې ما خپله منصوبه داسې جوړه کړې وه څۀ؟ لکه د دُنياوی خلقو په شان په يوه
اراده نۀ وی چې په يوه لحظه کښې ”آو“ او په بله لحظه ”نه“ وائی؟ ١٨ څنګه چې خُدائ
پاک رښتينے دے دغه شان زمونږ خبره تاسو سره پخه ده، يعنې دا چې ”آو“ په ځائ
”آو“ او د ”نه“ په ځائ ”نه.“ ١٩ ځکه چې د خُدائ پاک زوئ عيسىٰ مسيح د چا زيرے
چې مونږ، يعنې ما او سيلوانوس او تيموتيوس، په تاسو کښې خور کړے دے، په هغۀ
کښې داسې خبرې نشته چې ”آو“ وکړی او بيا وائی ”نه“ بلکې هغه په خپله خبره کلک
ولاړ وی. ٢٠ ځکه چې په هغۀ کښې د خُدائ پاک ټولې وعدې ”آو“ دی، او هم دغه وجه
ده چې د هغۀ په وسيله مونږ د خُدائ پاک جلال ته ”آمين“ وايو. ٢١ خو دا خُدائ پاک
دے چې مونږ يې تاسو سره په مسيح کښې مضبوط کړی يُو، او هغۀ مونږ مقرر کړی يُو.
٢٢ هغۀ په مونږ خپل مُهر ولګولو او زمونږ په زړونو کښې يې روحُ القُدس د ضمانت په
طور واچولو. ٢٣ خُدائ پاک ګواه دے چې زۀ ستا د بچ کيدو دپاره کورنتوس ته واپس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رانهٔ غلم. ۲۴ زمونږ مقصد دا نهٔ دے چې ستاسو په ايمان بادشاهی کوُو بلکې ستاسو د
خوشحالۍ دپاره مونږ تاسو سره په شريکه خِدمت کوُو ځکه چې تاسو په ايمان کښې
قائم يئ.

۲ ۱ نو ما په خپل زړهٔ کښې دا اراده وکړه چې تاسو ته د بل غم درکولو په وجه نهٔ
درځم. ۲ ځکه کهٔ چرې زهٔ تاسو غمژن کړم نو ما به څوک خوشحالوی، بغېر د هغوئ
نه څوک چې زما په وجه غمژن شوی دی. ۳ او ما چې څهٔ وکړل هغه مې وليکل نو
چې کله زهٔ درشم چې زهٔ د هغوئ نه غمژن نهٔ شم چا ته چې په کار دی چې ما خوشحاله
کړی، ځکه چې زما په تاسو ټولو باور دے چې زما خوشحالی به ستاسو د ټولو
خوشحالی وی. ۴ ما د ډېر مصيبت او د خفګان په حالت کښې په ډېرو اوښکو سره
دا ځکه تاسو ته وليکل د دې دپاره نه چې تاسو دې غمژن شئ بلکې د دې دپاره چې
تاسو ته د هغه بېحده مينې پته ولګی، کومه چې زما تاسو سره ده.

## قصوروار ته معافی ورکول

۵ زهٔ دا خبره اوږدول نهٔ غواړم، خو کهٔ چا ما له تکليف راکړو نو دا يې صرف ما له
نه بلکې تاسو ټولو له يې درکړو. ۶ د داسې سړی دپاره دغه سزا کافی ده کومه چې
هغهٔ د ډېرو خلقو نه وموندله. ۷ نو اوس د دې په ځائ تاسو ته په کار دی چې د هغهٔ
قصور معاف کړئ او تسلی ورکړئ هسې نه چې هغه د ډېرې پرېشانۍ په وجه غرق شی.
۸ نو د دې دپاره زهٔ تاسو ته خواست کوم چې هغهٔ ته خپله مينه بيا ښکاره کړئ. ۹
ما هم په دې وجه دا وليکل چې تاسو وآزمائيم چې تاسو په ټولو خبرو کښې زما تابعدار
يئ او کهٔ نه. ۱۰ هر څوک چې تاسو معاف کوئ هغه زهٔ هم معاف کوم، ځکه څهٔ چې
ما معاف کړل دا ما ستاسو دپاره د مسيح په اختيار معاف کړل، ۱۱ او دا د دې دپاره
کوُو چې د شيطان په چال کښې راګير نهٔ شُو ځکه چې مونږ د هغهٔ د منصوبو نه ناخبره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ یُو.

## په تروآس ښار کښې د پولوس اندېښنه

۱۲ کله چې زۀ د مسيح زېرے ورکولو له تروآس ښار ته راغلم نو مالِک زما نه وړاندې
د خدمت دروازه کولاو کړې وه، ۱۳ خو زما روح آرام ونۀ موندو ځکه چې ما خپل
ورور تيطوس هلته ونۀ ليدلو، نو د هغوئ نه مې رُخصت راواخستو او مِکدونيه ته لاړم.
۱۴ خو د خُدائ پاک شُکر دے چې مونږ يې د هغۀ غلامان کړُو او د مسيح د کاميابۍ په
جلوس کښې يې روان کړُو. او زمونږ تعلق يې د مسيح د پېژندګلو په حقله لکه خوشبوئ
په هر ځائ کښې خور کړُو. ۱۵ مونږ د هر هغه چا دپاره چې خلاصون مومي او يا
هلاک کېږي د خُدائ پاک دپاره د مسيح خوشبوئ يُو. ۱۶ مونږ هغوئ ته ښوک چې
مړۀ کېږي د هلاکېدو بوئ يُو او هغوئ ښوک چې ژوندي کېږي ورته د ژوندون بوئ يُو.
او دغه شان کار ښوک کولے شي؟ ۱۷ ځکه چې مونږ د ډېرو خلقو په شان د خُدائ
پاک کلام خرخوونکي نۀ يُو بلکې مونږ د زړۀ د اخلاصه د مسيح په اختيار د خُدائ پاک
کلام اورو. او په دې پوهه يُو چې د بره نه خُدائ پاک په مونږ نظر ساتي.

## د نوي لوظ خادِمان

۳ ۱ ولې بيا مونږ د خپلې نيک نامۍ ډنډوره غړوو؟ او يا مونږ ته لکه د نورو خلقو په
شان د سفارشي خطونو ضرورت دے څۀ؟ ۲ تاسو په خپله زمونږ هغه سفارشي خط
يئ چې زمونږ په زړونو ليکلے شوے دے، چې تاسو ټول يې لوستلے شئ او پرې
پوهېږئ. ۳ او ستاسو نه دا ظاهرېږي چې په خپله لکه د مسيح د خط په شان يئ، کوم
چې مونږ په سياهۍ نۀ دے ليکلے، بلکې د ژوندي خُدائ پاک په روح مو ليکلے دے نه
چې د کاڼي په تختو بلکې په زړونو. ۴ خو مونږ دا خبره په يقين سره کوُو ځکه چې په
مسيح کښې په خُدائ پاک زمونږ دغه شان باور دے. ۵ مونږ په خپله د دې قابل نۀ يُو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په خپله د څهٔ کولو دعویٰ وکړو بلکې زمونږ قابلیت د خُدائ پاک د خوا نه دے، ۶
چا چې مونږ د خپل نوی لوظ د خادِم کېدو جوګه کړو، دا لوظ د لیکلے شوی شریعت
نه نهٔ دے، بلکې د روح نه دے. ځکه چې زوړ لیکلے شوے شریعت وژل کوی، خو د
نوې لوظ لاندې روح ژوند ورکوی. ۷ کهٔ د شریعت هغه تختې چې په ګټه لیکلے شوې
وې او په هغې کښې دومره جلال وو چې بنی اِسرائیلو د موسیٰ مخ ته نهٔ شو کتلے چې
په کښې د خُدائ پاک جلال ځلېدو، کهٔ څهٔ هم هغه جلال به لږ وخت وروستو تتېدو، ۸
نو بیا ولې د روحُ القُدس د نظام جلال به د دې نه زیات نهٔ وی څهٔ؟ ۹ ځکه کهٔ په
مجرمونکی نظام کښې جلال وو، نو صادقه نظام به ضرور د دې نه زیات جلالی وی.
۱۰ حقیقت کښې چې مخکښې کوم جلال وو هغه اوس د دې لوئ جلال په وجه ختم
شو. ۱۱ نو چې فنا کېدونکی څیزونه جلالی وُو نو نوې ابدی څیزونه به ضرور د دې نه
زیات جلالی وی. ۱۲ نو زمونږ اُمید هم دا دے او په دې وجه په زړهٔ ورتیا سره د زیری
اورولو خِدمت کوُو، ۱۳ او مونږ د موسیٰ په شان نهٔ یو، چې په خپل مخ یې پړده اچولې
وه د دې دپاره چې بنی اِسرائیل هغه جلال ونهٔ ګوری کوم چې به لږ وخت وروستو
تتېدو. ۱۴ خو د هغوئ زړونه سخت شول ځکه چې تر نن پورې د زوړ لوظ د تلاوت په
وخت د هغوئ په زړونو پړده پرته ده، او دا پړده صرف د مسیح په وسیله اخوا کیږی.
۱۵ خو تر ننه پورې چې کله هم د موسیٰ کِتاب تلاوت کیږی نو د هغوئ په زړونو پړده
پرته وی. ۱۶ خو کله چې څوک د مالِک طرف ته راوګرځی، نو دغه پړده اخوا کیږی.
۱۷ اوس مالِک روح دے، او چرته چې د مالِک روح دے، هلته آزادی ده. ۱۸ خو په
مونږ کښې د مالِک خُدائ هغه جلال لیدل کیږی چا چې د خپلو مخونو نه پړده اخوا
کړې ده، او مونږ ورځ په ورځ د مالِک خُدائ د جلال په صورت بدلیږو، او دا کار زمونږ
نه، خو د هغه مالِک دے چې په خپله روح دے.

## د خاورې په لوښو کښې خزانه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۴

۱ نو ځکه چې مونږ ته د خُدائ پاک د رحم په وسيله دا خِدمت وسپارلے شو نو
مونږ همت نۀ بائيلو. ۲ مونږ ټول شرمناک کارونه پرېښودل، نۀ مونږ چالاکی کوُو او
نۀ د خُدائ پاک په کلام کښې بدلون راولو. خُدائ پاک په خپله زمونږ گواه دے چې
همېشه رښتيا وايو او دا حقيقت ټولو صادقانو ته زمونږ رښتينوالی څرگندوی. ۳ او
کۀ چرې زمونږ په زيری پرده پرته ده نو دا د هغوئ نه پټه ده څوک چې هلاکېدونکی دی.
۴ شيطان يعنې د دې دُنيا بادشاه د بې‌ايمانانو عقل ړوند کړے دے د دې دپاره چې
هغوئ د مسيح په حقله د زيری د جلال هغه رڼا ونۀ گوری، څوک چې د خُدائ پاک په
صورت دے. ۵ ځکه چې مونږ د خپل ځانونو تبليغ نه، بلکې د عيسیٰ مسيح تبليغ
کوُو، چې هغه مالِک دے، او خپل ځانونه مونږ د عيسیٰ دپاره ستاسو غلامان کوُو. ۶
ځکه چې خُدائ پاک په خپله دا فرمائيلی دی چې، ”د تيارې نه دې رڼا وځليږی،“ نو هغۀ
زمونږ په زړونو کښې د خُدائ پاک د جلال د عِلم رڼا د عيسیٰ مسيح په مخ باندې
وځلوله. ۷ په مونږ کښې چې د خاورين لوښو په مثال نازک يُو، يوه داسې لويه خزانه
پرته ده. چې د دې خبرې اظهار ترې وشی چې دا لوئ قدرت د خُدائ پاک د خوا نه
دے، نه چې زمونږ د خوا نه. ۸ مونږ د هرې خوا نه په مصيبتونو کښې راگير يُو خو
تباه کېږوُ نه، مونږ خو پرېشانه کېږوُ خو نا اُميده کېږوُ نه، ۹ مونږ زورول کېږوُ خو
پرېښودل کېږوُ نه، مونږ وهل کېږوُ خو هلاکېږو نه. ۱۰ مونږ همېشه په خپل بدن کښې د
عيسیٰ مرگ گرځوو نو چې د عيسیٰ ژوند هم زمونږ په بدنونو کښې ښکاره شی. ۱۱
ځکه چې مونږ هره ورځ د عيسیٰ په وجه مرگ ته حواله کېږوُ د دې دپاره چې د عيسیٰ
ژوند زمونږ د فانی بدن نه څرگند شی. ۱۲ نو مونږ مرگ سره مخ کېږوُ د دې دپاره چې
تاسو ته ابدی ژوند مِلاو شی. ۱۳ خو ليکلے شوی دی چې، ”ما ايمان راوړو او ځکه
مې خبرې وکړې،“ نو په مونږ کښې هم دغه شان ايمان دے نو مونږ هم ايمان راوړے
دے او ځکه خبرې کوُو. ۱۴ ځکه چې مونږ ته پته ده چا چې مالِک عيسیٰ ژوندے
کړے دے هغه به مونږ هم د عيسیٰ سره ژوندی کړی او سره ستاسو به مو خپلې مخې ته
حاضر کړی. ۱۵ څۀ چې مونږ په ځان تېروو هغه ستاسو د فائدې دپاره تېروو، او څنگه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د خُدائ پاک فضل ډېرو خلقو ته ملاوېږی نو خلق به هم ډېره شُکر ګزاری کوی، نو
په دې به خُدائ ته نور جلال هم ملاوېږی.

## د ايمان په وسيله ژوندون

١٦ نو په دې وجه مونږ همت نۀ بائيلو. اګر کۀ چې زمونږ ظاهری بدن ورو ورو
ختمېږی خو زمونږ باطنی بدن ورځ تر ورځ نوے کيږی. ١٧ ځکه چې زمونږ د دغه لږ
ساعت معمولی مصيبتونه زمونږ دپاره بےاندازې غېر معمولی او ابدی جلال پېدا کوی.
١٨ نو ځکه مونږ په ليدلو څيزونو نه، بلکې په ناليدلو څيزونو نظر ساتو، ځکه څۀ چې
ښکاری هغه فانی دی خو څۀ چې نۀ ښکاری هغه ابدی دی.

۵ ١ ځکه چې مونږ ته دا پته ده چې زمونږ بدن لکه د دُنياوی خېمې په شان دے په
کومه کښې چې مونږ اوسيږو او کله چې هغه راپرېوځی نو خُدائ پاک به مونږ ته په
آسمان کښې ابدی کور راکړی کوم چې په انسانی لاسونو جوړ شوے نۀ وی. ٢ مونږ
په دې خيمه کښې د خپل آسمانی کور د داخلېدو په طمع زېرګی کوُو، ٣ کۀ په
حقيقت کښې کله مونږ په دې کښې داخل شو نو مونږ به بربنډ نۀ يُو. ٤ مونږ اوس هم
په دې خيمه کښې يُو او د بوج لاندې زېرګی کوُو، ځکه چې مونږ خپل فانی لباس ويستل
نۀ غواړو بلکې د دې دپاسه نور اغوستل غواړو نو چې ژوند هغه څۀ ختم کړی څۀ چې
فانی دی. ٥ چا چې مونږ د دې کار دپاره تيار کړو هغه خُدائ پاک دے او هغۀ مونږ
ته د ضمانت په طور خپل روح راکړو. ٦ نو مونږ هميشه په دې ډاډه يُو اګر کۀ مونږ
ته پته ده چې ترڅو چې مونږ د دې بدن په کور کښې يُو نو تر هغې د مالِک په کور کښې
نۀ يُو. ٧ ځکه چې زمونږ د ژوند تلل په ظاهری څيزونو نۀ بلکې په ايمان دی. ٨ آو،
مونږ په دې ډاډه يُو چې د بدن غوندې کور به پرېږدو او د مالِک سره اوسېدل به زيات
خوښوو. ٩ نو کۀ مونږ په دې بدن کښې يُو او يا نۀ يُو، خو زمونږ مقصد صرف د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خوشحالول دی. ۱۰ ځکه چې مونږ ټول به ضرور د مسيح د عدالت په وړاندې
حاضر شو، نو هلته به هر يو ته د خپل کار بدله مِلاو شی څۀ چې هغوئ په دې بدن کښې
کړی وی کۀ هغه ښۀ وی او کۀ بد وی.

## د صُلح کولو خِدمت

۱۱ نو مونږ د مالِک خُدائ د يرې نه خبر يُو او د خلقو د پوهولو کوشش کوُو. خو
خُدائ پاک ته په خپله زمونږ د اخلاص پته ده او اُميد دے چې ستاسو ضمير ته به هم
پته وی. ۱۲ نو مونږ خپله نېک نامی په تاسو بيا نۀ زياتوو بلکې مونږ په خپله تاسو له
موقع درکوو چې په مونږ فخر وکړئ د دې دپاره چې تاسو هغوئ له جواب ورکولے شئ
څوک چې په ظاهره فخر کوی خو په زړۀ کښې نه. ۱۳ ځکه کۀ مونږ په خود کښې نۀ يُو
نو د خُدائ پاک دپاره يُو او کۀ په خود کښې يُو نو ستاسو دپاره يُو. ۱۴ ځکه چې د
مسيح مينه مونږ په دې مجبوروی، چې مونږ په دې پوهه شُو چې هغه يو د ټولو دپاره مړ
شو نو مطلب يې دا شو چې ټول مړۀ شول. ۱۵ او هغه د ټولو دپاره مړ شو نو چې
څوک ژوندی دی هغه دې د ځان دپاره نۀ وی ژوندی بلکې د هغۀ د خاطره دې ژوندی
وی څوک چې د هغوئ دپاره مړ شو او بيا ژوندے شو. ۱۶ نو اوس مونږ چا ته په
انسانی نظر نۀ ګورو، لکه څنګه چې مونږ هم مسيح ته يو وخت په انسانی نظر کتل خو
اوس داسې نۀ کوُو. ۱۷ نو بيا کۀ څوک په مسيح کښې وی نو هغه نوے مخلوق دے.
زاړۀ هر څۀ ختم شول، وګورئ هر څۀ نوی شول. ۱۸ دا ټول هر څۀ د خُدائ پاک له
طرفه دی، چا چې د مسيح په وسيله مونږ سره روغه وکړه او هغۀ مونږ ته د صُلح کولو
خِدمت وسپارلو. ۱۹ مطلب دا چې خُدائ پاک د مسيح په وسيله دُنيا سره صُلح کوله،
او د هغوئ نافرمانی يې د هغوئ خلاف حساب نۀ کړه او د صُلح راوستو پېغام يې زمونږ
په حواله کړو. ۲۰ نو مونږ د مسيح پېغام وړُونکی يُو او خُدائ پاک زمونږ په وسيله دا
خواست کوی، مونږ د مسيح د طرف نه تاسو ته مِنت کوُو چې د خُدائ پاک سره صُلح

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړئ. ۲۱ خُدائ پاک مسيح زمونږ د ګناهونو دپاره فديه کړو چا چې کله هم ګناه نۀ
وه کړې، د دې دپاره چې مونږ د هغۀ په وسيله د خُدائ پاک په وړاندې صادق ثابت شُو.

۶ ۱ مونږ چې د خُدائ پاک په خِدمت کښې شريک يُو، تاسو ته دا مِنت کوُو چې د
خُدائ پاک کوم فضل چې تاسو قبول کړے دے، هغه عبث مۀ ګڼئ. ۲ ځکه چې هغه
فرمائی، "کله چې ستاسو د بچ کېدو وخت راغلو، نو ما په تاسو نظر وکړو او د مدد
دپاره مې ستاسو فرياد واورېدو." وګورئ د بچ کېدو وخت اوس راغلے دے. وګورئ دا
د خلاصون ورځ ده. ۳ مونږ د چا په لار کښې خنډ نۀ جوړېږو د دې دپاره چې زمونږ
په خِدمت کښې څۀ نقصان پېدا نۀ شی، ۴ بلکې د خُدائ پاک د خادِمانو په شان په
هره خبره کښې مونږ خپل ځان ښکاره کوُو، او په ډېر صبر سره په مشکلاتو کښې، په
سختو کښې او افتونو کښې، ۵ په وهلو ټکولو، په قيدولو، په بلوا کېدلو، په سخت
مشقت کولو، په شوګيرو تېرولو، په لوږه تنده کښې وخت تېروو، ۶ او بيا هم په پاکۍ،
په عِلم، په صبر، په مهربانۍ، په روحُ القُدس او په بې‌ريا مينې سره ځان ښکاره کوُو. ۷
مونږ په وفادارۍ سره حقيقت بيانوو او د خُدائ پاک قدرت راسره دے. مونږ په خپل
ښی لاس او ګس لاس کښې د صداقت وسلې نيولی دی. ۸ مونږ په هر حالت کښې په
عزت او بې‌عزتۍ، په بدنامۍ او په نيک نامۍ کښې د خُدائ پاک خِدمت کوُو. اګر کۀ
دوئ مونږ دوکه باز ګڼی خو بيا هم رښتينی يُو، ۹ کۀ نامعلومه يُو خو بيا هم مشهور
يُو، کۀ مرګ حال يُو خو بيا هم ژوندی يُو، کۀ وهل کيږُو خو قتل کيږُو نه. ۱۰ کۀ مونږ
غمژن يُو خو هر وخت خوشحاله يُو، مونږ غريبانان يُو خو ډېر خلق غنيان کوُو، مونږ
سره څۀ نشته خو بيا هم راسره هر څۀ شته. ۱۱ اے کورنتيانو، مونږ تاسو سره صفا
خبرې وکړې او درسره د زړۀ نه مينه کوُو. ۱۲ زمونږ په مينه کښې څۀ کمے نشته خو
ستاسو په زړونو کښې شته. ۱۳ زۀ درته لکه د خپلو ماشومانو دا خواست کوم چې په
خپلو زړونو کښې مونږ ته ځائ راکړئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ژوندی خُدائ پاک کور

۱۴ څوک چې په مسیح ایمان نۀ لری، د هغوئ سره په جغ کښې مۀ ځئ. ځکه چې د
صادقانو او د شریرانو په خپلو کښې څۀ تعلق وی؟ او د رڼا او تیارې په خپلو کښې د یو
بل سره څۀ تعلق وی؟ ۱۵ ولې د مسیح د شیطان سره څۀ قسم جوړښت شته؟ یا یو
ایماندار د یو بې‌ایمانه سره څۀ تعلق ساتلے شی څۀ؟ ۱۶ نو د خُدائ پاک د کور او د
بُتانو په خپلو کښې د جوړښت امکان نشته، نو مونږ په خپله د ژوندی خُدائ پاک کور یُو
لکه څنګه چې خُدائ پاک فرمائیلی دی چې، ”زۀ به په خپله په هغوئ کښې اوسم او په
هغوئ کښې به ګرځم، او زۀ به د هغوئ خُدائ پاک یم او هغوئ به زما خلق وی.“ ۱۷
دې دپاره مالِک فرمائی چې، ”د هغوئ نه راوځئ او د هغوئ نه جدا شئ او یو ناپاک څیز
له هم لاس ورنۀ وړئ، نو زۀ به تاسو قبول کړم. ۱۸ او زۀ به بیا ستاسو پلار یم او تاسو
به زما زامن او لوڼه یئ، دا د مالِک قادر مطلق خُدائ وینا ده.“

۷ ۱ نو اے خوږو دوستانو، نو چې مونږ سره داسې وعدې شوې دی نو راځئ چې
مونږ خپل ځانونه د هر قِسمه جسمانی او روحانی ناپاکو نه پاک کړُو او د خُدائ پاک د
یرې نه خپل پاکوالے کمال ته ورسوو.

## په توبې ایستلو د پولوس رسول خوشحالی

۲ مونږ ته په خپلو زړونو کښې ځائ راکړئ. مونږ د هیچا سره بد نۀ دی کړی، مونږ
څوک نۀ دی بې‌لارې کړی، نۀ مو چا سره دوکه کړې ده. ۳ زۀ دا ستاسو د ملامتولو
دپاره نۀ وایم ځکه چې ما تاسو ته اول هم وئیلی دی چې تاسو زمونږ په زړونو کښې
داسې یئ چې کۀ مرګ وی او کۀ ژوند، مونږ تاسو سره یو ځائ یُو. ۴ زۀ په تاسو
مطمئن یم او په تاسو ډېر فخر کوم. ما ته پوره تسلی حاصله ده او په خپلو ټولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مصیبتونو کښې بیا هم بې‌حده خوشحاله یم. ۵ کله چې مونږ مِکدونیه ته راغلو نو مونږ
ته دلته هم هیڅ آرام نۀ وو، خو مونږ نه هر طرف ته تکلیفونه وُو، زمونږ نه ګېرچاپېره
جګړې وې او زمونږ په زړونو کښې یې یره وه. ۶ خو خُدائ پاک چې عاجزانو ته
تسلی ورکوی نو د تیطوس په راتلو یې مونږ له تسلی راکړه، ۷ او نۀ تش د هغۀ په راتلو
بلکې د هغۀ په هغه تسلیٔ چې تاسو هغۀ له ورکړې وه، ځنګه چې هغۀ مونږ ته ستاسو د
خواهش، ستاسو د خفګان او ما دپاره ستاسو د لیوالتیا ووئیل نو زۀ نور هم زیات
خوشحاله شوم. ۸ کۀ زما په سخت خط تاسو غمژن شوی وئ نو زۀ په هغې پښېمانه
نۀ یم، اګر چې ما په اول وخت کښې کوم غم چې د لږ وخت دپاره در ورسولو نو په هغې
زۀ لږ پښېمانه وم. ۹ خو اوس زۀ په دې خبره خوشحاله یم، نۀ چې ستاسو په غم بلکې
په دې چې ستاسو خفګان تاسو توبه ګار کړئ. ځکه چې دا غمژن کېدل د خُدائ پاک د
خوا نه وو، دا ځکه چې تاسو ته زمونږ د طرف نه څۀ نقصان نۀ وو رسېدلے. ۱۰ ځکه
چې د خُدائ پاک د مرضیٔ غم داسې توبه راپېدا کوی چې اَنجام یې خلاصون دے او په
هغې پښېمانه کېدل نشته، خو د دُنیا غم مرګ پېدا کوی. ۱۱ نو ګورئ دغه د خُدائ پاک
د مرضیٔ غم په تاسو کښې څومره سرګرمی، عُذر، خفګان، یره، شوق، جوش او غېرت
پېدا کړو. تاسو په هر جوړ دا ثابت کړل چې تاسو په دې خبره کښې څومره بې‌ګناه یئ.
۱۲ نو اګر چې ما تاسو ته ولیکل، خو د دې مقصد دا نۀ وو چې څوک غلط کارونه
کوی د هغوئ په حقله ولیکم یا چا سره چې غلط کارونه کېږی د هغوئ په حقله ولیکم،
نه، بلکې د دې مقصد دا وو چې د مالِک خُدائ په وړاندې په تاسو ظاهره شی چې تاسو
زمونږ دپاره څومره سرګرم یئ. ۱۳ په دې زمونږ تسلی وشوه او دې تسلیٔ سره سره
مونږ د تیطوس په خوشحالیٔ نور هم خوشحاله شُو ځکه چې ستاسو ټولو په وسیله د
هغۀ زړۀ ته تسلی مِلاو شوه. ۱۴ ځکه کۀ ما د هغۀ په وړاندې ستاسو په باب کښې څۀ
فخر وکړو نو شرمنده نۀ شوم بلکې ځنګه چې مونږ تاسو ته ټولې خبرې په رښتیا وکړې
نو هم هغه شان هغه فخر چې مونږ د تیطوس په وړاندې وکړو، هغه هم رښتیا ثابت شو.
۱۵ او هر کله چې هغۀ ته ستاسو د ټولو فرمانبردارئ رایادیږی او چې تاسو ځنګه په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ویره او رېږدلو هغه قبول کړو نو تاسو سره د هغهٔ د زړهٔ مینه نوره هم زیاتیږی. ۱۶ زهٔ
ځکه خوشحاله یم چې زما مکمل باور په تاسو دے.

## سخاوت کول

۸ ۱ زما ورونړو او خوېندو، مونږ غواړو چې تاسو د خُدائ پاک د هغه فضل په حقله
خبر شئ کوم چې د مِکدونیه جماعتونو ته ورکړے شو. ۲ د مصیبت د دې سخت
آزمېښت په دوران کښې د هغوئ خوشحالی زیاته شوه او د سخت غربت باوجود هم
هغوئ د زړهٔ د اخلاصه د خپل طرف نه سخاوت وکړو. ۳ ځکه زهٔ دا ګواهی ورکوم
چې هغوئ د خپل وس په مطابق نه، بلکې د خپل وس نه یې هم زیات په خپله خوښه
ورکړل. ۴ هغوئ مونږ ته ډېر مِنت وکړو چې، مونږ هم مقدسینو ته د خیرات ورکولو
د خِدمت په فضل کښې شریک کړئ. ۵ خو هغوئ زمونږ د اُمید نه زیاته ورکړه
وکړه، بلکې خپل زړونه یې اول مالِک ته او بیا یې د خُدائ پاک په مرضئ مونږ ته
وسپارل. ۶ د دې دپاره مونږ تیطوس ته مِنت وکړو لکه څنګه چې هغهٔ دا کار شروع
کړے وو، هم هغه شان دې په تاسو کښې هم د خیرات دغه کار پوره کړے شی. ۷ نو
لکه څنګه چې تاسو په هره خبره کښې، د ایمان او کلام او عِلم او جوش او هغه مینه
چې ستاسو مونږ سره ده، په هغې کښې وړاندې شوی یئ نو مونږ غواړو چې تاسو هم
هغه شان د خیرات په دې کار کښې هم وړاندې شئ. ۸ زهٔ د حُکم په طور دا نهٔ وایم
بلکې د دې دپاره چې زهٔ د نورو د جوش مقابل کښې ستاسو د مینې رښتینوالے
وآزمائیم. ۹ ځکه چې تاسو زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح د فضل نه خبر یئ. کهٔ څهٔ هم
چې هغه غنی وو خو هغه ستاسو دپاره غریب شو، د دې دپاره چې د هغهٔ د غربت په
وسیله تاسو مالدار شئ. ۱۰ نو زهٔ په دې باب کښې تاسو ته زما نصیحت کوم چې
ستاسو دپاره به دا ښهٔ وی، چې هغه کار تر سره کړئ کوم چې مو یو کال مخکښې
شروع کړے وو. تیر کال تاسو په ورکړه کښې د ټولو نه اول وئ، او دا هم تاسو وئ چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا کار مو اول شروع کړو. ۱۱ نو اوس دا کار پوره هم کړئ. لکه څنګه چې تاسو اراده
کښې چاخ وئ هم هغه شان د وس په مطابق يې پوره هم کړئ. ۱۲ ځکه کۀ د ورکولو
شوق وى نو خُدائ پاک هديه د هغې په مطابق قبلوى څۀ چې د چا سره وى، نه چې د
هغې په مطابق چې د هغۀ سره نۀ وى. ۱۳ زما مطلب دا نۀ دے چې د نورو بوج دې کم
شى او ستاسو دې زيات شى، بلکې په کار دے چې دا برابر وى. ۱۴ دې وخت تاسو
سره زيات څۀ دى دا به د هغوئ ضرورت پوره کړى، او کله چې د هغوئ سره زيات
شى، نو هغوئ به ستاسو ضرورت پوره کړى، او دغه شان به تاسو کښې برابرے قائم
وى. ۱۵ لکه چې صحيفو کښې ليکلى دى چې، "چا چې ډېره راټوله کړې وه د هغۀ سره
ډېره زياته نۀ وه او چا چې لږه راټوله کړې وه د هغۀ سره کمه نۀ وه."

## تيطوس او د هغۀ ملګرى

۱۶ خو د خُدائ پاک شُکر دے چې هغۀ د تيطوس په زړۀ کښې ستاسو دپاره هم زما په
شان سرګرمى پيدا کړې ده. ۱۷ ځکه چې هغۀ نۀ تش زمونږ خواست ومنلو بلکې هغه د
مخکښې نه د زياتې سرګرمۍ سره په خپله مرضۍ تاسو ته درروان دے. ۱۸ د هغۀ سره
مونږ خپل هغه ورور درلېږُو څوک چې په ټولو جماعتونو کښې د زيرى د پېغام ورکولو
دپاره مشهور دے. ۱۹ او نۀ صرف دا بلکې هغه د جماعتونو له خوا نه د دې چندې د
رسولو په خِدمت کښې زمونږ د سفر ملګرے مقرر شو، او مونږ دا خِدمت ځکه وکړُو
چې د مالِک جلال او زمونږ سرګرمى ښکاره شى. ۲۰ مونږ په شريکه د دې لوئې هديې
د ساتلو خِدمت کوُو د دې دپاره چې په مونږ څوک هم څۀ قسم اِلزام ونۀ لګوى. ۲۱ نو
مونږ ځکه ډېر کوشش کوُو چې داسې منصوبه جوړه کړُو چې هغه نۀ صرف د مالِک
خُدائ په نظر کښې ښۀ وى بلکې چې د خلقو په نظر کښې هم ښۀ وى. ۲۲ او مونږ د
هغوئ سره خپل بل ورور درلېږو څوک چې مونږ څو ځله وآزمائيلو او په ډېرو خبرو
کښې مونږ ته سرګرم ښکاره شو، خو اوس هغه نور هم سرګرم دے ځکه چې هغه په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو ډېر باور کوی. ۲۳ کهٔ څوک د تیطوس په حقله تپوس وکړی نو هغه ما سره په
شریکه ستاسو په خِدمت کښې زما ملګرے دے. او زمونږ د نورو ورونړو په حقله، هغوئ
د جماعتونو د طرفه لېږلے شوی دی او مسیح ته جلال ورکوی. ۲۴ نو په دې وجه
خپله مینه ورته ثابته کړی چې ټول جماعتونه دا ووینی چې مونږ په تاسو بېځایه فخر نهٔ
کوُو.

## د ایماندارانو دپاره په یروشلم کښې چنده

۹ ۱ اوس ما دپاره دا ضروری نهٔ ده چې تاسو ته د مقدسینو د چندې په حقله ولیکم
۲ ځکه چې زهٔ ستاسو د سرګرمۍ نه خبر یم د هغې په وجه د مِکدونیه د خلقو په
وړاندې زهٔ په تاسو فخر کوم او وایم چې د اخیه خلق د تیر کال نه تیار دی. او ستاسو
جوش په هغوئ کښې ډېر خلق راوپارول. ۳ خو زهٔ دا ورونړه درلېږم د دې دپاره چې
ستاسو په حقله مونږ کوم فخر کوُو، هغه بېمقصده پاتې نهٔ شی، بلکې تاسو هغه شان
تیار شئ څنګه چې ما هغوئ ته وینا کړې ده. ۴ ځکه چې کهٔ ما سره د مِکدونیه نه څهٔ
خلق راشی او هغوئ وګوری چې تاسو تیار نهٔ یئ نو مونږ به شرمنده شُو ځکه چې مونږ
په تاسو باور کړے دے. ۵ نو ما دا خبره ضروری وګڼله چې په دې ورونړو زور راوړم
چې اول کورنتیانو ته لاړ شی او د هغه چندې د مخکښې نه بندوبست وکړی د کومې چې
تاسو وعده کړې ده، چې دا چنده په خپله خوښه راجمع کړئ نه چې په زبردستۍ. ۶
خو یاد ساتئ څوک چې لږه کرونده کوی هغه به لږه ریبی، او چې څوک زیاته کرونده
کوی هغه به زیاته ریبی. ۷ تاسو هر یو دې هم هغه هومره ورکړی څومره چې یې په
زړهٔ کښې دی، او نهٔ چې په نهٔ زړهٔ او نهٔ د بل چا په مجبورولو سره ځکه چې خُدائ پاک
په خوشحالۍ ورکوونکو سره مینه کوی. ۸ او خُدائ پاک کولے شی چې تاسو ته
ستاسو د ضرورت په مطابق هر څهٔ پریمانه درکړی او تاسو سره به د نورو د مدد کولو
دپاره همېشه هر څهٔ ډېر وی. ۹ نو په صحیفو کښې داسې لیکلی دی چې، ”هغهٔ خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خیراتونه مسکینانو ته ورلېږلی دی، د هغهٔ صداقت د تل دپاره پاتې کیږی.“ ۱۰ نو خُدائ
پاک څوک چې د زمیندار دپاره تخم او د خوراک دپاره روټۍ ورکوی، هم هغه به تاسو
له هم د کَرلو تخم درکړی او زیات به یې کړی او ستاسو د صداقت فصل به هم زیات
کړی. ۱۱ تاسو به په هر یو څیز کښې ډېر شتمن شئ د دې دپاره چې تاسو همېشه په
هره موقع کښې سخاوت کولے شئ، او په دې سره به د خُدائ پاک شُکر گزاری وشی.
۱۲ ځکه چې د دې خِدمت په کولو به نهٔ تش د مقدسینو ضرورتونه پوره شی بلکې د
ډېرو خلقو له خوا به د خُدائ پاک ډېره شُکر گزاری وشی. ۱۳ نو ستاسو د خِدمت په
وجه به هغوئ د خُدائ پاک لوئی بیان کړی. نو هغوئ او نورو ټولو ایماندارانو ته به
ستاسو سخاوت دا خبره ثابته کړی چې تاسو د مسیح د زیری تابعدار یئ. ۱۴ نو په دې
وجه به هغوئ تاسو ته د زړهٔ نه دعا کوی د هغه لوئ فضل په وجه کوم چې خُدائ پاک
تاسو ته درکړے دے. ۱۵ د خُدائ پاک د هغه بې‌مثاله برکت دپاره شُکر دے.

## د پولوس رسول د خپل خِدمت دفاع

۱۰ ۱ زهٔ پولوس په خپله تاسو ته د مسیح په عاجزۍ او نرمۍ کښې خواست کوم،
خو زهٔ ستاسو په مخکښې عاجز یم او پښی شا زړَور یم. ۲ بلکې زهٔ تاسو ته دا
خواست کوم چې زما د حاضرېدو په وخت ما په سخته رویه مهٔ مجبوروئ، لکه د چا
چې زما په حقله دا خیال دے چې زمونږ خِدمت د دُنیاوی طریقې په مطابق دے. ۳
اګر کهٔ مونږ انسانان یو خو زمونږ جنګ د انسانانو په مطابق نهٔ دے. ۴ ځکه چې
زمونږ د جنګ وسلې انسانی نهٔ دی بلکې زمونږ وسلې د مضبوطو قلاګانو د نړولو دپاره
د خُدائ پاک د قُدرت دی. مونږ پرې هر قسمه غلط بحثونه ۵ او هره هغه کبرژنه خبره
چې د خُدائ پاک د عِلم خلاف وی تباه کوُو او په هر یو نافرمانه خیال قبضه کوُو د دې
دپاره چې د مسیح تابعدار شی. ۶ کله چې ستاسو فرمانبرداری کامله شی نو بیا مونږ
تیار یُو چې د هر قِسم نافرمانۍ سزا ورکړُو. ۷ تاسو صرف ظاهری څیزونو ته ګورئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کهٔ ستاسو په ځان دا باور وی چې تاسو د مسيح يئ، نو مونږ هم ستاسو په شان د مسيح
يُو. (۸) ځکه کهٔ زهٔ په هغه اختيار څهٔ لږ فخر کوم چې ستاسو د جوړولو دپاره ما ته
مالِک راکړے دے، نه چې ستاسو د ورانولو دپاره، نو زهٔ په داسې کولو پښيمانه نهٔ يم.
(۹) زهٔ د خپلو خطونو په وسيله ستاسو د يرولو کوشش کول نهٔ غواړم. (۱۰) ځکه چې د
ځينو خلقو زما په حقله دا سوچ دے چې، د هغهٔ خطونه اثرناک او زبردست دی خو
چې کله هغه په خپله حاضر وی نو کمزورے وی او د هغهٔ تقرير فضول وی. (۱۱) نو
دغه شان خلق دې پوهه شی څهٔ چې په خطونو کښې زمونږ ليکل دی نو دغه شان به
زمونږ په موجودګئ کښې هم وی. (۱۲) ځکه چې مونږ دا جرأت نهٔ شُو کولے چې خپل
ځانونه په هغه څو کسانو کښې شمېر کړُو يا د هغوئ سره برابر کړُو څوک چې خپله
نېک نامی زياتوی، خو کله چې هغوئ په خپله په خپلو کښې د ځانونو اندازه ولګوی او
په خپله په خپلو کښې مقابله وکړی نو په هيڅ نهٔ پوهيږی. (۱۳) خو بيا هم مونږ به د
اندازې نه زيات فخر نهٔ کوُو بلکې تر هغه حده، کوم چې خُدائ پاک زمونږ دپاره مقرر
کړے دے او چې په کښې تاسو هم راغلی يئ. (۱۴) ځکه چې مونږ خپل ځانونه د هغه حد
نه زيات لوئ نهٔ ګڼو لکه څنګه چې زمونږ د خِدمت په هغه حد کښې وی، ځکه چې مونږ
اولنی کسان وُو چې تاسو ته د مسيح د زيری په ورکولو در رسېدلی يُو. (۱۵) او مونږ د
نورو په خوارئ فخر نهٔ کوُو خو اُميد کوُو چې ستاسو د ايمان په زياتوالی کښې به زمونږ
د کار درجه نوره ډېره زياته شی، (۱۶) نو چې مونږ زيرے ستاسو نه نور هم اخوا علاقې
ته ورسوو، هغه ځائ ته چرته چې چا خِدمت نهٔ دے کړے. نو بيا به مونږ ته د بل په
خِدمت د فخر کولو ضرورت نهٔ وی. (۱۷) خو، "هر څوک چې فخر کوی نو هغه دې په
مالِک فخر وکړی." (۱۸) ځکه څوک چې خپل تعريف په خپله کوی هغه د قبلېدو نهٔ دے
بلکې د چا تعريف چې مالِک په خپله کوی هم هغه د قبلېدو وړ دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پولوس رسول او د دروغو رسولان

۱۱ (۱) زما خواهش دے چې تاسو ما سره لږ شان بېوقوفی وزغمئ. آو، تاسو يې
ما سره زغمئ. (۲) زۀ ستاسو دپاره د خُدائ پاک په شان غېرت محسوسوم، ځکه چې
ما يو خاوند سره ستاسو د وادۀ کولو او مسيح ته تاسو د يوې پاکې پېغلې په شان د
حاضرولو وعده کړې ده. (۳) خو زۀ يرېږم چې داسې ونۀ شی لکه څنګه چې مار په
خپله چالاکۍ بی‌بی حوا دوکه کړه او ستاسو خيالات هم د هغه خلوص او پاکوالی نه بل
خوا شی، کوم چې د مسيح سره په کار دی. (۴) ځکه کۀ تاسو ته څوک هم راشی او
هغه د بل عيسیٰ پېغام درکوی، او کۀ څۀ هم چې د هغۀ پېغام او زمونږ کښې فرق هم وی،
يا تاسو ته د روحُ القُدس په ځائ څۀ بل روح درکړے شی، يا چې تاسو کوم زيرے قبول
کړے دے د هغې نه علاوه بل زيرے درکړی، نو بيا خو هغه تاسو ډېر په خوشحالۍ
اورئ. (۵) زۀ خو خپل ځان ستاسو د هغه تش په نامه لويو رسولانو نه کم نۀ ګڼم. (۶)
دا ده چې زۀ په تقرير کولو کښې ماهر نۀ يم خو په عِلم کښې هم کم نۀ يم، مونږ په هر
حال او په ټولو خبرو کښې تاسو ته دا وښودل. (۷) ولې ما دا ګناه وکړه چې مې تاسو
ته د خُدائ پاک زيرے مفت در ورسولو او ځان مې لاندې کړو د دې دپاره چې تاسو
اوچت شئ؟ (۸) ستاسو په خيال چې ما ستاسو د خِدمت دپاره د نورو جماعتونو نه په
چنده حاصلولو د هغوئ نه غلا وکړه. (۹) او کله چې زۀ تاسو سره وم او حاجتمند وم
نو ما په چا بوج وانۀ چولو ځکه چې د مِکدونيه نه ورونړه راغلی وُو او زما حاجت يې
پوره کړو او ما په هره خبره کښې په تاسو د بوج اچولو نه ځان ساتلے دے او ساتم به
يې هم. (۱۰) څنګه چې د مسيح حقيقت په ما کښې دے نو د اخيه په علاقه کښې به
هيڅوک ما د دې فخر نه منع نۀ کړی. (۱۱) دا ولې؟ ځکه چې زۀ تاسو سره مينه نۀ کوم؟
خو خُدائ پاک ته پته ده چې زۀ تاسو سره مينه کوم. (۱۲) خو زۀ به خپل کار لکه د
مخکښې په شان جاری ساتم. زما دا کار به هغه خلق د دې نه منع کړی چې څوک چې
د دې موقعې پسې ګرځی چې په خپلو کارونو زمونږ د خِدمت په شان فخر وکړی. (۱۳)

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې داسې خلق دروغژن رسولان دی او دوکه مار دی او ځانونه يې د مسيح د
رسولانو په شان کړی وی. ۱۴ په دې کښې څۀ حېرانتيا نشته، ځکه چې شېطان هم
خپل ځان د يو نُورانی فرښتې په شان جوړوی. ۱۵ نو بيا کۀ د شېطان خادِمان د
صادقانو خادِمانو په شان ځان جوړ کړی نو دا څۀ غټه خبره نۀ ده. خو د هغوئ اَنجام
به د هغوئ د کارونو په شان وی.

## د پولوس رسول تکليفونه

۱۶ زۀ بيا وايم چې ما دې څوک بې‌وقوف ونۀ ګڼی خو کۀ ګڼی مې نو د بې‌وقوف په
شان مې قبول کړئ نو چې زۀ هم لږ شان فخر وکړم. ۱۷ زۀ چې د دې فخر او جرأت
په حقله څۀ وايم هغه د مالِک په اختيار نه بلکې د بې‌وقوف په شان وايم. ۱۸ ځکه چې
ډېر خلق په انسانی طور فخر کوی، زۀ به يې هم کوم. ۱۹ ځکه چې تاسو په خپله
عقلمند يئ نو په خوښه بې‌وقوفان زغمئ. ۲۰ ځکه چې تاسو هغوئ هم زغمئ څوک چې
تاسو غلامان کوی يا مو داړی، يا مو راګېروی، يا خپل ځان لوئ جوړوی، يا ستاسو په
مخ څپېړه درکوی. ۲۱ زۀ په شرم سره وايم چې په دې کولو کښې مونږ ډېر کمزوری
وُو. خو کۀ څوک فخر کوی نو زۀ به هم فخر کوم، زۀ دا د يو بې‌وقوف په طور وايم. ۲۲
ولې هغوئ عبرانيان دی؟ نو زۀ هم يم. ولې هغوئ بنی اِسرائيل دی؟ نو زۀ هم يم. ولې
هغوئ د اِبراهيم د نسل نه دی؟ نو زۀ هم يم. ۲۳ ولې هغوئ د مسيح خادِمان دی؟ زما
وينا لکه د ليونی په شان ده، خو زۀ د هغوئ نه زيات بهتر يم، په محنت کښې زيات، په
قيد کښې زيات، په کوړو خوړلو کښې د حد نه زيات، او څو څو ځله د مرګ سره
مخامخ شوے يم. ۲۴ ما د يهوديانو نه پينځۀ ځله يو کم څلوېښت کوړې وخوړلې، ۲۵
درې ځله زۀ په چُوکو ووهلے شوم، يو ځلې سنګسار کړے شوم، درې ځلې راباندې د
اوبو جهازونه تباه شول او يوه شپه او ورځ سمندر په مخه کړے وم. ۲۶ زۀ څو څو
ځله په سفر کښې په مختلفو خطرو کښې لکه د دريابونو، د ډاکوانو، د خپل قوم، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غېریهودیانو، د ښار، د بیابان، د سمندر، د دروغژنو ورونړو او خوېندو په خطرو کښې
پاتې شوے یم، ۲۷ د سخت محنت او د زیات مشقت په وجه څو څو شپې شوګیره
شوے یم. څو څو ځله په لوږو او تندو نارنهور ګرځېدلے یم، څو څو ځله د جامو د
کمی په وجه د یخنۍ نه کوکله شوے یم. ۲۸ د دې خبرو نه علاوه، چې په ما کوم د
روزانه غم دے هغه د ټولو جماعتونو دپاره زما په زړهٔ کښې سوچ دے. ۲۹ د هغوئ په
کمزورتیاو زهٔ کمزورے کېږم نه څهٔ؟ د هغوئ په تیندک خوړلو زما زړهٔ نهٔ خوږېږی څهٔ؟
۳۰ کهٔ فخر کول ضروری وی نو په کار دے چې زهٔ په هغه څیزونو فخر وکړم چې زما
کمزورۍ ښکاره کوی. ۳۱ د مالِک عیسیٰ د خُدائ پاک او پلار حمد و ثنا دې همېشه
وی، هغه خبر دے چې زهٔ دروغ نهٔ وایم. ۳۲ چې زهٔ په دمشق کښې وم نو د ارِتاس
بادشاه ګورنر د ټول ښار نه چاپېره څوکۍ کښېنولې وه چې ما ګرفتار کړی. ۳۳ خو زهٔ
د ښار د دېوال د کړکۍ نه په ټوکرۍ کښې کوز کړے شوم او د هغهٔ د پنجې نه بچ شوم.

## د پولوس رسول رویا او مکاشفه

۱۲ ۱ ما ته فخر کول ضروری دی، اګر کهٔ دا فائده مند نهٔ دی خو زهٔ به د مالِک د
رویاګانو او د مکاشفې ذکر وکړم. ۲ زهٔ په مسیح کښې یو سړے پېژنم څوک چې
څوارلس کاله مخکښې اوچت کړے شو او آخری آسمان ته پورته کړے شو، خو زهٔ
خبر نهٔ یم چې په وجود کښې وو او کهٔ د وجود نه بغېر وو، خُدائ پاک ته پته ده. ۳ او
زهٔ خبر یم چې دا سړے په وجود کښې یا بې له وجوده وو، هغه ترې زهٔ خبر نهٔ یم خو
خُدائ پاک خبر دے، چې ۴ آسمان ته اوچت کړے شو، او داسې خبرې یې
واورېدلې چې د هغې وئیل ناممکنه دی او انسان ته د هغه خبرو بیانول ناروا دی. ۵ زهٔ
به په داسې سړی خو فخر کوم خو په خپل ځان به بغېر د خپلو کمزوریانو نه فخر ونهٔ
کړم. ۶ خو کهٔ زهٔ فخر کول هم غواړم نو بېوقوفه به نهٔ یم ځکه چې زهٔ به رښتیا وایم،
خو بیا هم نهٔ وایم ځکه چې څوک ما د هغهٔ نه زیات ونهٔ ګڼی څنګه چې مې وینی یا له ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه اوری. ٧ او د دې عجيبه روحانی کشفونو په وجه چې زۀ پرې مغروره نۀ شم زما په
بدن کښې د شيطان فرښتې زما د تکليف دپاره ازغے وټومبلو، چې زۀ فخر ونۀ کړم.
٨ د دې په حقله ما مالِک ته درې ځله سوال زاری وکړه چې دا تکليف زما نه لرې
کړی. ٩ خو هغۀ ما ته وفرمائيل چې، ”زما فضل ستا دپاره کافی دے ځکه چې زما
طاقت په کمزورتياو کښې پوره کيږی.“ نو زۀ به په خوشحالئ په خپلو کمزورتياو فخر
وکړم نو چې د مسيح قوت په ما کښې پاتې شی. ١٠ په دې وجه زۀ د مسيح د خاطره
په کمزورتيا کښې، په بې‌عزتئ کښې، په سختو کښې، په تکليفونو کښې او په افتونو کښې
خوشحاله يم، نو کله چې زۀ کمزورے يم نو بيا هغه وخت هم زورَور يم.

## د پولوس رسول د کورنتيانو د جماعت په حق کښې انديښنه

١١ زۀ بې‌وقوف شوم ځکه چې زۀ تاسو مجبور کړم خو تاسو له زما ستائينه کول په
کار وو، په وجه د دې چې زۀ هيڅ هم نۀ يم، خو بيا هم د هغه تش په نامه لويو رسولانو نه
په هيڅ طور کم نۀ يم. ١٢ د رښتينی رسول نښې ستاسو په وړاندې ما په ډېر صبر سره
په نښو او په معجزو او عجيبه کارونو ښکاره کړې. ١٣ تاسو په کومه خبره کښې د
نورو جماعتونو نه کم وئ بې له دې چې ما په خپله په تاسو بوج وانۀ چولو؟ زما دا
غلطی معاف کړئ. ١٤ ګورئ، په دريم ځل زۀ تاسو له راتلو ته تيار يم او په تاسو به بوج
وانۀ چوم، ځکه چې زۀ ستاسو د مال نه بلکې ستاسو غوښتونکے يم. ځکه چې
ماشومان مور پلار نۀ ساتی بلکې مور پلار ماشومان ساتی. ١٥ زۀ به ستاسو دپاره ډېر
څۀ په خوشحالئ قربان کړم بلکې تر دې چې خپل ځان به هم قربان کړم. کۀ زۀ تاسو
سره زياته مينه کوم نو ولې تاسو به ما سره کمه مينه کوئ څۀ؟ ١٦ دا خبره ټيک ده
چې ما په تاسو بوج وانۀ چولو، خو ځينی دا سوچ کوی چې زۀ چالاک يم او تاسو مې په
ټګئ راګېر کړی يئ. ١٧ نو بيا څوک چې ما تاسو ته درولېږل نو ولې ما د هغوئ په
وسيله تاسو سره څۀ دوکه کړې ده څۀ؟ ١٨ ما تيطوس ته مِنت وکړو چې هغه لاړ شی
او هغۀ سره مې يو ورور درولېږلو، خو تيطوس ولې تاسو سره دوکه ونۀ کړه څۀ؟ ولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ دواړه په يو روح کښې نۀ يُو؟ ولې مونږ د يو بل په نقش قدم نۀ يُو روان شوۀ؟ ١٩
کېدے چې تاسو دا سوچ کوئ چې مونږ ستاسو په وړاندې د خپل ځان دفاع کوُو؟ خو
مونږ د خُدائ پاک په وړاندې په مسيح کښې خبرې کوُو. خوږو عزيزانو، دا هر څۀ مونږ
ستاسو د ترقۍ دپاره کوُو. ٢٠ ځکه چې زۀ يرېږم، هسې نه چې کله زۀ درشم او تاسو
چې څنګه غواړم هغه شان مو ونۀ مومم، او څنګه چې تاسو نۀ غواړئ ما هغه شان
ومومئ، زۀ يرېږم چې په تاسو کښې جګړه، کينه، غصه، خود غرضى، بده وينا، غيبتونه،
ډوزې او فساد نۀ وى. ٢١ په دې يرېږم چې کله زۀ بيا درشم هسې نه چې زما خُدائ
پاک ما ستاسو په وړاندې شرمنده نۀ کړى او په هغه ډېرو خلقو چې ګناهونه يې کړى
دى، افسوس وکړم ځکه چې هغوئ د هغې ناپاکۍ، حرامکارۍ او شهوت پرستۍ نه چې
يې کړى دى، توبه نۀ ده ايستلې.

## آخرى خبرې او سلامونه

# ١٣

١ دا درېم ځل دے چې زۀ تاسو ته درځم، د دې دپاره چې د هر اِلزام دپاره د
دوو يا درېو ګواهانو ضرورت به وى چې هغه پرې مجرم ثابت کړے شى. ٢ ما هغوئ
او هغه نور ټول خبردار کړل چا چې مخکښې ګناه کړې وه، او زۀ هغوئ اوس هم هغه
شان په غير موجودګۍ کښې خبرداروم څنګه چې ما په دوېم ځل کړى وُو، چې زۀ بيا
راشم نو ضرور به سزا ورکړم. ٣ ځکه چې تاسو کوم ثبوت غواړئ چې مسيح زما په
وسيله خبرې کوى هغه زۀ اوس تاسو له درکوم. هغه ستاسو د سمولو دپاره کمزورے نۀ
دے بلکې هغه په تاسو کښې طاقتور دے. ٤ ځکه چې هغه په کمزورتيا کښې په سولۍ
کړے شو خو د خُدائ پاک د قدرت په سبب ژوندے دے. او مونږ هم په هغۀ کښې
کمزورى يُو خو د هغۀ سره به د خُدائ پاک د هغه قدرت په سبب ژوندى يُو چې ستاسو
اصلاح وکړو. ٥ تاسو خپل ځانونه وآزمايئ چې ستاسو ايمان په ځائ دے او کۀ نه.
خپل ځانونه ولټوئ. ولې تاسو په دې نۀ يئ خبر چې عيسىٰ مسيح په تاسو کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېږئ؟ کۀ په تاسو کښې هغه نۀ وى، نو بيا ستاسو ايمان بېځايه دے. ۶ زۀ اُميد
کوم چې تاسو ته به پته ولګی چې مونږ ناکامه نۀ يُو. ۷ خو مونږ د خُدائ پاک نه دا
دُعا غواړُو چې تاسو څۀ بد کار ونۀ کړئ، د دې دپاره نه چې مونږ کامياب ښکاره شُو
بلکې د دې دپاره چې تاسو نېکى وکړئ، خير دے کۀ مونږ ناکامیابه ښکاره شُو. ۸
ځکه چې مونږ د حق خِلاف هيڅ نۀ شُو کولے خو د حق آواز اوچتولے شُو. ۹ نو
ځکه مونږ خوشحاله يُو کله چې مونږ کمزورى يُو او تاسو زورَور يئ. او زمونږ دا دُعا ده
چې تاسو په ايمان کښې پاخۀ شئ. ۱۰ نو زۀ دا خبرې په خپلې غېر موجودګۍ کښې د
دې دپاره ليکم نو کله چې زۀ درشم چې زۀ د هغه اختيار په استعمالولو کښې سختى ونۀ
کړم کوم اختيار چې مالِک ما له ستاسو د جوړولو دپاره راکړے دے، او نۀ چې د
ورانولو دپاره. ۱۱ اے ورونړو او خويندو زما آخرى خبره دا ده چې، خوشحاله اوسئ،
په هر څۀ کښې بالغان شئ، يو بل ته ډاډګيرنه ورکوئ، په امن سره اوسېږئ، نو بيا به د
مينې او د سلامتۍ خُدائ پاک تاسو سره وى. ۱۲ په پاکې مينې سره يو بل ته سلام
ووايئ. ۱۳ ټول مقدسين تاسو ته سلام وائى. ۱۴ د مالِک عيسىٰ مسيح فضل او د
خُدائ پاک مينه او د روحُ القُدس شراکت دې تاسو ټولو سره وى.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.